SHARIAT WEEKLY

شریعت

اوونیزه

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

څلورم کال دوه نوي بمه گڼه پرله پسې (۲۸۲) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال دشعبان المعظم (۳۰) د۱۳۷۸هـ ش کال د لندې دمیاشتي(۱۷) د۱۹۹۹میلادي کال د دسمبر (۸)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسې !، همدا (عـدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزگـاري) ته.
(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بي حرمتي بگذارید.

د محترم رئیس الوزرا لخوا د روژې د مبارکې میاشتې د رارسیدو له کبله :

د اسلامي هیوادونو د مشرانو په نامه د مبارکي پیغامونه مخابره شول

د افغانستان د اسلامي امارت د رئیس الوزرا محترم الحاج ملا محمد رباني لخوا د روژې مبارکي میاشتي د رارسیدو له امله د نړۍ د اسلامي هیوادونو د مشرانو او د جمهورو رئیسانو په نامه د مبارکي پیغامونه مخابره شویدي.

د مشرانو او جمهورو رئیسانو په نامه ددغو هیوادونو مرکزونو ته مخابره شویدي. د روژې د مبارکي میاشتي د رارسیدو په ویاړ ډېرو ښو مبارکیو له وړاندي کیدو وروسته ویل شویدي.

د افغانستان له مجاهد او مسلمان ملت سره پداسي حال کي چي د جهاد په دوران کي د ټولو اسلامي هیوادونو بشپړ ملاتړ مننه او قدرداني کوي په اوسنیو شرایطو کي زموږ جگړه ځپلي هیواد له زیاتو قربانیو او ستونزو له گاللو وروسته د وروستیو جگړو له امله له سختو او جدي مشکلاتو او ستونزو سره مخامخ دي او زموږ د خلکو پر خلاف د ملگرو ملتو د سازمان د امنیت شورا لخوا لگول شوي اقتصادي بندیزونه د ټولو نړیوالو او اسلامي اصولو پر خلاف دي او زموږ بي وزلي ملت یې د روژې د مبارکي میاشتي له رارسیدو مخکي له زیاتي بې وزلي او تنگ سیا سره مخامخ کړ. دغه بندیزونه له دي پرته هیڅ بل دلیل نلري چي موږ د اسلام غږ پورته کړېدي او اسلامي نظام چي زموږ د مجاهد ملت همیشني هیله ده په خپل هیواد کي ټینگ کړېدي.

به مناسبت حلول ماه مبارك رمضان :

به اساس شفقت عالیقدر امیر المؤمنین

٤٥٠ تن از اسراء آزاد گردیدند

لازم است تا آزاد شده گان بعد از این فریب دشمنان را نخورده و به کـشور عزیز خویش مصدر خدمت گردند

بر اساس شفقت و عفو عالیقدر امیر المؤمنین به مناسبت حلول ماه مبارك رمضان چهار صدو پنجاه تن از اسراء دیروز از محبس پلچرخي رها گردیدند.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در اجتماعی که به همین مناسبت به اشتراك محترم الحاج ملا محمد حسن آخند معاون رئیس الوزراء، محترم الحاج ملا نور الدین ترابي وزیر عدلیه ، محترم الحاج ملا عبید الله آخند وزیر دفاع ملي ، محترم مولوي نور جلال معین وزارت امور داخله، محترم ملا عبدالحق وثیق معاون ریاست عمومي استخبارات، محترم ملا محمد حسین مستسعد معاون ریاست عمومي اداره امور، محترم مولوي حمد الله حامد مسؤول کمیسیون تبادله اسرا،، محترم الحاج ملا شا محمد مسؤول محبس مرکزي پلچرخي و تعدادی از مسؤولین ادارات امارتي دیروز در محبس پلچرخي تدویر یافته بود محترم معـاون رئیس الوزرا اهداف امارت اسلامي افغانستان را به اسراي رها شده تشریح نموده افزودند : امارت اسلامي افغانستان تحت قیادت عالیقدر امیر المؤمنین به منظور تطبیق احکام الهي تأمین امنیت سراسري از بین بردن فسق و فساد در جامعه ریشه کن ساختن هرگونه تبعیض و ده ها اهداف عالي و مقدس دیگر بوجود آمده و در تحقق و بر آورده ساختن این اهداف مقدس بهترین فرزندان این ملت مسلمان و شهید پرور قربان گردیده اند. ولي عناصر جاه طلب و مفسد هنوز هم با همکاري حامیان خارجي شان جنگ را در افغانستان ادامه

ص ٤

طي محفل شانداري :

به فارغان جدید پوهنځي شرعیات تحایف و تحسین نامه ها توزیع گردید

بمناسبت سي و هشتمین دوره فارغان پوهنځي شرعیات پوهنتون کابل قبل از ظهر دیروز محفلي در آن پوهنځي تدویر یافت .

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد: در محفل متذکره که به اشتراك مسؤولین استادان و محصلین پوهنځي شرعیات تدویر یافته بود محترم مولوي عبدالله حقاني

ص ٤

اجرات امور ریاست معادن و صنایع ولایت هرات بررسي گردید

چگونگي اجراآت امور ریاست معـادن و صنایع ولایت هرات دیروز مورد غور و بررسي قرار گرفت .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت هرات خبر میدهد : محترم ملا عبدالسلام ضعیف معین وزارت معادن و صنایع دیروز ضمن بازدید از بخش هاي مـختلف ریاست

ص ٤

نسبت تخلف از قوانین صحي :

پنج باب دواخانه و یك معاینه خانه در مربوطات شهر کابل مسدود گردید

موظفین ریاست قوانین صحي و بررسي وزارت صحت عامه اخیراً پنج باب دواخانه و یك معاینه خانه را در ناحیه شانزدهم شهر کابل نسبت تخلف از مقررات صحي براي مدت نه یوم مسدود نمود.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد دواخانه هاي متذکره نسبت نداشتن دواساز و تکرار تخطي از مقررات ریاست قوانین و بررسي وزارت صحت عامه هر کدام براي مدت نه یوم مسدود گردید.

پروسه بررسي ادامه دارد.

د مخدره موادو پر خلاف د مبارزي د عالي کمیسیون غونډه جوړه شوه

په هیواد کي د مخدره موادو د کرکیلي او ترافیکو د مخنیوي په لاره کي د نویو او اغیزمنو لارو چارو د موندلو په مقصد پرون د مخدره موادو پر خلاف د مبارزي د عالي کمیسیون د لوی رئیس محترم الحاج ملا عبدالحمید اخند زاده په مشري ددغه کمیسیون په مقر کي یوه غونډه جوړه شوه .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه غونډه چي د بهرنیو موسسو انجوگانو د چاراوکو خبریالانو او د ځینو امارتي ادارو د کـارکـوونکو په گـډون ددغـه کـمـیـسیـون په مقر کي جوړه شوه . د مخدره موادو پر خلاف د مبارزي د عالي کمیسیون لوي رئیس د مخدره موادو د ضررونو او ناوړو نتیجـو په باره کي خبري وکړې . په پای کي د کوکنارو د کـرکـیـلي د مـخنیوي په لاره کي د اغیزمنو لارو چارو د موندلو په مقصد د غونډي د برخوالو لخوا گټهوري نظریې وړاندي شوي او د غونډي برخه

٤ مخ

کار ترمیم سرك شبرغان - سر پل آغاز گردید

کار ترمیم و جغل اندازي سرك شبرغان و سر پل دیروز آغاز گردید .

آژانس اطلاعاتي باختر از ولایت جوزجان خبر میدهد : سرك متذکره که نسبت عدم توجه ملیشه ها و قسماً در اثر ریزش بارانهاي موسمي تخریب و از مدتي بدینسو مشکلات را در عبور و مرور ترافیکي وسایط نقلیه

ص ٤

په پاکـستان کي د روسیي لوی سفیر مړ شو

اسـلام آباد : د نواي وقت ورځپاڼي د خبر له مخي په اسلام اباد کي د روسیي لوي سفیر اندري میـخـایلوویچ د زړه دریدو له امله مړ شو . نوموړي د روانې اوونۍ په نیمايي کي د زړه د حملي له کبله د اسلام اباد مرکزي روغتون ته مراجعه وکړه خو طبي مرستو ونه شوي کړې

٤ مخ

د کـابل ښار او شاوخوا سیمو څـه د پاسه ۱۰۰۰۰۰ د څښـاك د اوبو زیرمـي او څـاگـاني کلوریشن کړي شوي

شریعت : د څښـاك د اوبو د کلوریشن پروگرام چي څه موده پخوا د افغانستان د اسلامي امارت د عامي روغتیـا وزارت په نوښت او د نړۍ د خوراکي پروگرام WFP ،WHO او د ملگرو ملتو د یونسف اداري په مالي مرسته د کابل ښار او شاو خوا سیمو کي پیل شوي وه په بریالیتوب سره پاي ته ورسید.

دغه مطلب د کلوریشن د پروگرام مسؤل محترم انجنیر سید نجیب الله عزیز له خبریال سره د یوي لنډي مرکي

٤ مخ

سرك کـابل - گردیز تا اکنون در حدود چهل کـیلو متـر ترمیـم گردیده است

کار ترمیم و احیاي سرك کابل - گردیز که چندي قبل آغاز یافته است تا کنون در حدود چهل کیلو متر ترمیم و داغ گیري گردیده است.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : از جریان کار ترمیم و داغگیري سرك کابل- گردیز که توسط قواي کار ریاست حفظ و مراقبت سرك هاي وزارت

ص ٤

حافظ احمد جان :

اعضاي تیم مـلي فتبال کشور انتخاب شدند

براي انتخاب اعضاي تیم به استعداد آنها توجه خاص صورت گرفته است

شریعت : اعضاي تیم ملي فتبال کشور انتخاب شدند . محترم حافظ احمد جان رئیس فدراسیون فتبال در زمینه به خبرنگار ما چنین گفتند : در هنگام انتخاب بازي کنان به استعداد آنها توجه خاص صورت گرفته است وي افزود:که براي رفع حوائج تمامي اعضاي تیم از طرف امارت اسلامي کمك هاي نقدي صورت میگیرد که به این صورت حیثیت قبلي تیم ملي فتبال کشور اعاده خواهد شد. وي گفت: که نجیب الله کارگر به حیث ترینر تیم انتخاب شده است درین تیم عبدالواحد، راحیل، احسان الله، مصطفی ، هارون، خسرو، محمد عارف، محمد علي، مصطفی انور

ص ٤

بر خلاف حملات وحشیانه روسها در چیچین :

تظاهرات شدید در واشنگتن براه افتاد

ANN بنا بر گزارش رسانه هاي خبري جهان تظاهرات شدیدي بر خلاف مظالم و وحشت هاي عساکر روسي در چیچین از جانب اتحادیه تنظیم هاي اسلامي در واشنگتن پایتخت ایالات متحده امریکا براه انداخته شد.

مظاهره کنندگان در حالیکه شعار هاي « مرگ بر روسیه» را با خود حمل مینمودند خواهان توقف هر چه زود تر حملات نظامي روس ها در چیچن گردیده و از مقامات روسیه خواهان به رسمیت شناختن استقلال چیچن و خروج فوري عساکر روسي از آن کشور گردیدند. این تظاهرات که در مقابل دفتر آتشه نظامي

ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

رمضان المبارك د برکتونو ، رحمتونو او نصرتونو میاشت

رمضان المبارک د رحمت، مغفرت، او له اور د د نجات موندلو میاشت ده په دې مبارکه میاشت کې د بندگـانو روزي زیاتیږي، د دوزخ د دروازې بندي، د جنتونو دروازې خلاصي او د شیطانانو سرغنه پکې تړل کیږي.

ددې مبارکې میاشتې په هره شپه کې له مسلمانانو غوښتل کیږي چې ناوړه اعمال پرېږدي او د لوی خدای«ج» د رضا موندلو لپاره نیکو اعمالو ته مخه کړي ددې مبارکې میاشتې سپیڅلې عبادت« روژه

۲ مخ

اختلافات جدید در روند صلح شرق میانه بروز کرد

مادلین البرایت وزیر امور خارجه ایالات متحده امریکا دیروز در مورد بروز اختلافات جدید در روند صلح شرق میانه ابراز نگراني نمود.

مادلین البرایت شام دیروز بوقت محلي ریاض پایتخت عربستان سعودي را به قصد بیت المقدس ترك نمود.

در گزارش آمده است که فلسطیني ها تهدید کرده اند در صورتیکه اسرائیل سیاست شهرك سازي خود را در اراضي اشغالي تغییر ندهد آنها

د زلزلي سختو تکانونو د ایران جنوبي برخي ولړزولي

په تیرو حلوېښتو ساعتو کي د زلزلي سختو ټکانونو د ایران جنوبي برخي ولړزولي.

د نړیوالو خبري منابعو د خبر له مخي د ایران د زلزلي پوهني مرکز ددغي زلزلي د ټکانونو سختوالي د ریکټر څلور اعشاریه پنځه او څلور اعشاریه شپږ درجي تثبیت کړېدي.

تر اوســـه پوري د زلزلي د ټکانونو د را منځته شویو تلفاتو او زیانونو په بـــاب رپوټ ندي ورکړي شوي.

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
دبوي ګڼي بيه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸۵ / ۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

هغه ځانګړی عبادت دی چی د هغه ثواب او پاداش خاص د الله تعالی له لوری ورکول کیږی .

رمضان المبارک د مسلمانانو تر منځ د مساوات، ترحم او ورورولی میاشت ده د رمضان المبارک لومړی لسیزه د لوی خدای«ج» د رحمت، دوهمه لسیزه د مغفرت او دریمه لسیزه یی د ګناګارو بندګانو لپاره له اور څخه د نجات او ازادی لسیزه ده .

د رمضان المبارک په مبارکه میاشت کی د هر تطوعی عمل سرته رسونکی ته د فرضی عمل د ادا کولو اجر ورکول کیږی په دی مبارکه میاشت کی یوه شپه د قدر شپه ده کومه چی د هغی یوی شپی عبادت د نورو عادی زرو شپو تر عبادت بهتر دی په دی مبارکه میاشت کی څښتن تعالی«ج» د بشر د لارښوونی لپاره خپل جامع کتاب قرآن عظیم الشان نازل کړی.

پدی مبارکه میاشت کی د کفر او اسلام تر منځ فیصله کوونکی جګړه (د بدر غزا) واقع شوی ده . پدی میاشت کی د اسلام فاتحو لښکرو لخوا د مسلمانانو قبله کعبه معظمه د شرک فساد او الحاد له پلویانو څخه خلاصه شوی . خلاصه دا چی رمضان المبارک د الهی فیوضاتو او برکاتو میاشت ده د رحمتونو او نصرتونو میاشت ده . د فلاح او نیکمرغی میاشت ده .

د رمضان المبارک هر روزه ماتی د مسلمان لپاره خوشحالی او پیشلمی د برکته ډک دی ددی مبارکی میاشتی سپیڅلی فریضه « روژه نیول » د اسلام د پنځو اهمو ارکانو څخه یو اساسی رکن دی . رمضان المبارک برکتمنه میاشت یو ځلی بیا په اسلامی امت باندی پداسی حال کی راځی چی د نړی په ګوټ، ګوټ کی مسلمانان د مستکبرینو لخوا تر سختو ګواښونو ، تعذیبونو او مشکلاتو لاندی دی. په چیچنیا ، کوسوا ، کشمیر ، فلسطین او د نړی په بیلا بیلو برخو کی د مسلمانانو په وطنونو ، **مقدساتو او ځانونو باندی ظالمانه، او بی شرمانه برغلونه کیږی. د هغوی په حقوقو تیری کیږی هغوی وژل کیږی، ځورول کیږی اوله خپلو ملکونو نه شړل کیږی هیڅوک نشته چې د هغوي چیغې واوری هیڅوک نشته چی د هغوی دفاع وکړی ټولی کفری نړی په یوه قومانده د** اسلام او مسلمانانو د تباهی او له منځه وړلو لپاره متی رانغښتی.

د نړی په هر ګوټ کی چی مسلمانانو د خپلو حقه حقوقو د غوښتلو اواز پورته کړی هغوی د تروریست په نامه ځپل شوی له نړی وال ګواښ سره مخامخ شوی او په مختلفو طریقو یی د له منځه وړلو پلانونه طرحه شوی.

مونږ په داسی حال کی چی د رمضان المبارک د میاشتی نیکمرغه راتګ د خپل مسلمانوته ځوریدلی مجاهد ملت او بیا ټول اسلامی امت لپاره مبارکی وایو له لوی او قادر څښتن«ج» څخه دا غواړو چی نور د جهان مسلمانان ته د دښمنانو له فتنو او مظالمو څخه نجات ورکړی د مسلمانانو تر منځ د واقعی اسلامی ورورولی روحیه ژوندی او د زلتونو څخه یی وژغوري ، د مسلمانانو او د اسلامی امت دښمنانو ته د هغوی د ناروا اعمالو جزا ورکړی او یو ځلی بیا د نړی مسلمانانو ته د طاغوت په ضد د جهاد ، مقاومت او مبارزی توان ور په برخه کړی تر څو وکولای شی چی په پوره میړانه خپل تیر مجد او عظمت بیرته تر لاسه او په ټوله نړی الهی سپیڅلی نظام نافذ کړی .

کشمکش های مخالفین و آینده ائتلاف شمال

بدخشاني

مسئله اختلاف و تضاد در میان عناصر تشکیل دهنده به اصطلاح ائتلاف شمال پدیده تازه یی نیست گذشته این اختلاف به سالها قبل بر میگردد. بقول شاعر : این رشته سر دراز دارد !

هر یك از عناصر تشکیل دهنده این تشکل در گذشته به شکلی از اشکال با هم درگیر جنگ بوده و خونهای بسیاري میان شان ریخته شده است و همین اکنون نیز درین به اصطلاح ائتلاف هر یك در صدد است تا به شکلی حریف و رقیب را تضعیف نموده و خود یکه تاز میدان قدرت باشد.

وقتي رهبران ائتلاف نسبت به همدیگر بی اعتماد بوده و روحیه عدم تفاهم میان شان حکمفرما باشد چگونه میتوان انتظار داشت تا تفنگداران آنان با هم سرسازش داشته باشند ؟ بنا بر این آنچه که همین اکنون در مناطق تحت کنترول مخالفین امارت اسلامي در جریان است غیر منتظره و غیر قابل پیشبیني نبود.

سال گذشته یکي از قوماندانان مشهور بدخشان بنام مولوي خردمند توسط هواداران مسعود در منطقه بقتل رسید خردمند هر چند در دوران جهاد وابسته به حزب اسلامي حکمتیار بود ولي بعداً مورد اعتماد رباني قرار گرفت و بحیث والي بدخشان تعیین گردیده بود . بعد از کشته شدن وي افراد مربوط به او در منطقه ارگو در برابر هواداران مسعود سنگر آراستند و میدان هوایي بدخشان را تحت کنترول خود گرفتند.

چندي قبل یکي از قوماندانان دیگر بدخشان بنام (بهادر مدافع) نیز کشته شد. مدافع هم در گذشته به حزب اسلامي حکمتیار وابسته بود ولي بعداً به جناح رباني پیوست. (مدافع برادر داکتر عمر شهید یکي از رهبران نهضت جوانان مسلمان در دوران ظاهر شاه بود که بعداً در دوره داؤد اعدام شد) یکي دیگر از برادران وي عبدالودود نیز در گذشته از قوماندان مشهور مجاهدین در بدخشان بود که در جهاد به شهادت رسید)

مدافع بخاطر سابقه خانواده اش در جهاد داراي نفوذ مردمي بود چیزي که مسعود هرگز آنرا تحمل نمي توانست کشته شدن وي در حضور رباني در حقیقت اتمام حجت مسعود به استاد بود که پا را از گلیم خویش فرا تر نگذارد .

مسعود در بدخشان از پشتیباني (نجم-الدین واثق) برخوردار بود که قسمت عمده از بدخشان بخصوص منطقه استراتیژیك سرحد با تاجکستان را تحت کنترول خود داشت. چند روز قبل در نتیجه یك کمین ماهرانه حبیب حامل وي هدف رگبار سلاحهاي مخالفین قرار گرفت و کشته شد. با کشته شدن نجم الدین واثق مسعود از وجود یك حامي قدرتمند در بدخشان محروم شد در حالیکه طرفداران استاد رباني در مرجع فوبیر قرار گرفتند.

هرچند استاد میتواند گناه قتل «واثق» را به گردن حکمتیار بیاندازد ولي حقیقت اینست که درین رابطه یکي دیگر از عناصر شامل درین (ائتلاف) دستي از دور بر این آتش داشته است.

افرادي که سابقاً در بدخشان وابسته به حزب اسلامي حکمتیار بودند استاد سیاف را بر رباني و مسعود ترجیح میدادند و استاد نیز با استفاده از موقعیت در صدد بود تا پایه هاي قدرت را در بدخشان توسعه ببخشد در حالیکه سیاف در دوران جهاد هیچ سنگري در بدخشان نداشت.

کشته شدن (حزبي هاي سابق) در بدخشان در حقیقت هوشداري نه تنها به استاد رباني بلکه به استاد سیاف نیز بود اما مسعود بخاطر اینکه خود را درین قضیه بی تقصیر جلوه دهد دست به یك صحنه سازي دیگر زد. مسعود در بدخشان مورد حمله مسلحانه قرار گرفت و چندین گلوله سویش فیر شد ولی (شیر بچه) مانند هر زمان دیگر از این دام مرگ نیز به سلامت جست ! معلوم نیست این صحنه سازي مسعود را مردم بدخشان تا چه حد جدي گرفتند و باور کردند ولي اخبار واصله خبر از آن دارد که تشنج در بدخشان بخصوص در نزدیك فیض آباد هنوز هم به قوت خود باقیست و درین میان مردم عادي بدخشان روز تا روز با وضع نا هنجار تر مواجه میگردند و مشکلات آنان در حال گسترش است .

اکنون در بدخشان یکي از قدرتهاي قابل توجه (بصیر خالد) است. خالد از اقارب (بي-بي حاجی) خانم استاد رباني است و اختلاف وي با مسعود سابقه طولاني دارد. هر زماني که استاد رباني تحت فشار مسعود قرار مي-گرفت تا بصیر خالد را تقویت نکند، «بي بي-حاجي» شخصاً با ارسال پول و سلاح از وي حمایت مي کرد. اکنون با توجه به اهمیتي که بصیر خالد در بدخشان خواهد داشت نقش بي بي حاجي نیز درین ائتلاف از اهمیت ویژه، برخوردار خواهد شد این نکته یی است که ائتلاف شمال میتواند به آن افتخار نماید و به کشور هاي به اصطلاح حامي حقوق زن در جهان با غرور اعلام نماید که ائتلاف شمال به زنان در (مردانه)!! ترین بخش هاي زندگي اجتماعي مردم افغانستان یعني کشت **و کشتار و خونریزي نیز حق مداخله داده است!**

بهر حال آنچه که امروز بیش از هر زمان دیگر روشن است اینست که مسعود بخاطر اینکه در میدان این کشمکش یکه تاز و قدرت مسلط باقي بماند حاضر است دست بهر کاري بزند و از آنجا که عناصر دیگر ائتلاف شمال سد راه وي در راه رسیدن به این هدف اند میتوان انتظار داشت که این درگیري ها و کشمکش ها همچنان ادامه یابد و موجب خونریزي هاي بیشتر گردد.

در میدان منازعه معمول چنین است که وقتي چندین گروه کوچك و ضعیف تحت فشار یك قدرت قویتر قرار مي گیرند اختلافات را به کنار نهاده غرض تنازع براي بقا با هم متحد و مؤتلف میشوند که باید علت بوجود آمدن ائتلاف شمال نیز همین ضرورت میان عناصر متشکله آن باشد ولي در عمل این تشکل بیش ا ز اینکه (ائتلاف شمال) را به نمایش بگذارد نمایانگر (اختلاف شمال) است. آنها در حالیکه به ضعف خویش در برابر امارت اسلامي واقف اند ولي قادر به حل اختلافات خویش نیستند و این خود نمایانگر این حقیقت است که حتي اگر امارت اسلامي آنها را به حال خویش نیز بگذارد آنان راهي جز نابودي در نتیجه اختلافات ذات-البیني خود نخواهند داشت.

ماه رمضان مظهر شکیبایي و شگوفایي

مولوي عبدالرقیب «جهید»

حمد بیحد و سپاس بی عدد خداي فرد و صمدیٰ که فرود آورنده ماه رمضان و قرآن عظیم الشأن است.

ماهي که اینك سیك سیر نزول فرموده و به منازل و مجامع مسلمانان و کلیه امت-اسلامي لبریز از برکات و فیوضات فرا رسیده ماه با عظمت و پر برکت صیام که بمثابه شهنشاه ماه ها و شب قدر این کیمیاي سعادت و ارمغان بخش بزرگترین مواهب الهي جلت عظمته هم درین ماه گرانقدر نهفته است.

روزه در تشریع اسلامی از سومین ارکان و بنیاد ها بعد از توحید و نماز بوده که جهت تزکیه نفس، تقویه ضمیر و شکیبایی حسي و مقاومت کتلوي انسان در زمره عبادات بدني بر هر مسلمان عاقل، بالغ اعم از زن و مرد فرض گردیده است. و بر اشخاص مریض، مسافر و زنان حامله و مرضعه «شیر ده» که خوف هلاکت الاد شان متصور بود و هکذا بر زنان حائضه (که حسب معتاد ماهوار حیض مي بینند) و زنانیکه در حال نفاسه « ولادت طفل» قرار داشته باشند و ایام مریضي شان شرعاً به اکمال نرسیده باشد میتوانند افطار نمایند و از روز هاي دیگر قضایي روزه فرضي رمضان را بشمارند.

فرضیت روزه در سوره بقره که مفهومش چنین است ثابت گردیده است :

ترجمه : اي مؤمنان! بر شما فرض شده روزه داشتن طوریکه لازم شده بود بر آنهاییکه پیش از شما بودند از امت هاي سابقه تا پرهیزگار شوید.

در آیه مبارکه فوق فرضیت روزه بر امت مرحومه سرور کائنات «ص» به چنان عبارات شیوایي بیان گردیده است که موجب اطمینان و تسلي خاطر امت پیغمبر اکرم«ص» آید که این فریضه الهي (صیام) تنها بر شما فرض نگردیده بلکه بر امت هاي گذشته و پیغمبران «ع» نیز لازم گردانیده شده بود.

در حدیث مبارك از سیدالمرسلین «ص» روایت گردیده است به این معني (کسیکه ماه رمضان را از نهاد ایمان و طلب ثواب روزه گیرد گناهان قبلي اش (گناهان خورد) آمرزیده مي شود.

فیوضات و برکات و رحمات این ماه مبارك به آن پیمانه ایست که در احصائیه و شمار نمي آید و در حدیث دیگري به این مضمون آمده است ، هرگاه که رمضان داخل مي شود دروازه هاي جنت گشوده مي شود و دروازه هاي دوزخ بسته مي شود و به زنجیر کشانیده مي شود شیطان ها « و در روایتي لفظ ابواب السماء و ابواب الرحمة یعني گشایش دروازه هاي آسمان و یا دروازه هاي رحمت هم وارد شده است و به هر تقدیر مسدود شدن دروازه هاي دوزخ درین ماه مبارك یکلي متیقن است پس اي جویاي خیر و نیکي بشتاب به استقبال این ماه مبارك و بیشتر از پیش در فضایل اعمال و تقوي و ریاضت عبادت فرما و اي کسانیکه در پي معصیت و شرارت به سر برده بودید با ندامت در تعقیب اعمال صالح بپرداز و با اخلاص به روزه گرفتن ماه مبارك رمضان اهتمام بنما.

ماه گرامي رمضان چند روزي مهمان عزیز خانه و مسجد و جامعه ماست پس چقدر نیکوست که شیرازه وحدت و اتحاد خود را حفظ کرده درین ماه به شایسته ترین کار کرد هاي انساني و خجسته افعال نیك به ختم هاي مجلل قرآن عظیم الشأن و اداء نماز تراویح و کلیه واجبات خود پردازیم.

تمام اختلاف ذات البیني، کبر و غرور، حسد و ریا، مداهنت و فریب کاري و همه اخلاق رذیله و صفات ذمیمه را از وجود و جو اجتماع خود یکسره به دور افگنده و در فضاي اخوت و محبت شرعي و اسلامي که خواست شارع مقدس جل جلاله و رسول گرامي اش «ص» و مقتضي روزه ماه مبارك رمضان است دست بازیم.

بزرگترین درسگاه و تربیتگاه نفوس مسلمانان و سازنده شخصیت هاي مطلوب، ماه مبارك رمضان است که در یکسال ، یك ماه جهت اهداف نهایت مقصودي و مقدس که همه جانبه از احوال روزه داران چون طبیب مراقب و مونس غمخوار دیده باني مینماید و در مقدم این ماهیکه که شاخصه علیاي آن تفکیك نمودن انسان از حیوان است و درین ماه براستي و واقعیت که فرق انساني و حیواني فقط بر مبناي روزه مي شود و بس.

مرحبا اي ماه خدا، ماه شکیبایي ما، ماه مملو از رحمت، الهام آور مغفرت و نوید بخش مسلمانان گنهگار از عذاب آتش دوزخ و با پیشکش نمودن شایان ترین تحایف حمد و گلدسته هاي شکر بپارگاه ذات احدیت و صمدیت مهمان گرامي خود را خوش آمدید گفته و در خدمت شان بجان و دل ارج میگذاریم .

امارت اسلامی و مسؤولیت علماء کشور

غلام محمد «فاروق»

وضعیت کنوني امت مسلمه از هیچکس پوشیده نیست و هر کس میداند که امروز مسلمانان از یك مرحله دردناك و اسف باري میگذرند، و چون وسایل ابلاغ و ذرایع نشراتي سمعي و بصري توانسته است ساحات دور و دراز روي زمین را با هم دوخته و پیوسته نماید، ازین رو به آساني میتوانیم واقعات جاري عالم اسلام را ارزیابي نموده و اطلاع کافي بدست بیاوریم درین راستا با تاسف مشاهده میشود که بدبختي هاي زیادي دامنگیر این امت گردیده است . از یك سو در ساحه سیاسي تقریباً به شصت پارچه تجزیه و از سالهاي متمادي به این طرف از یك خلافت امارت و یا نظام واحد سیاسي محروم گردیده اند. هر کشور براي خود مستقلاً یك دستگاه انتظامي و سیاست جداگانه دارند که بدبختانه اکثراً در رأس این ادارات حاکماني قرار دارند که ظاهرا خود را آزاد مي پندارند ولي در حقیقت همه شان نوکران و مامورین یهودیت و نصرانیت مي باشند و هیچگاه از احاطه پلان ها و دساتیر ایشان سرپیچي نمي توانند. امروز بسا از حکام اسلامي زندگي خود را بحدي در انحطاط بسر مي برند که دیگر نام مسلماني سزاوار نمي باشند فقر، جهالت، پستي اخلاق و جنجال هاي اجتماعي، منازعات و اختلافات داخلي قومي ، مذهبي و غیره همه و همه بین آنها به مشاهده میرسد که همانا نتیجه حتمي غفلت و بي پروایي از فرامین مقدس شرعي و عدم تطبیق نظامي که آنرا خداوند عزوجل براي سعادت بشر انتخاب نموده است همچنان مسلمانان بچشم سر مي بینند که در اکناف و انحا همین جهان اسلام حکامي مسلط هستند که اصول و اساسات اسلامي و قرآني را مانع تهذیب و تمدن مي پندارند، حدود و تعزیرات شرعي را ظلم، وحشت و مخالفت از حقوق بشر تلقي میکنند و حجاب شرعي ا تجاوز به حقوق زنان و تحدید آزادي آنها میدانند . و همین خائنان اسلام نما هستند که زمینه تجاوز را بر سر زمین هاي اسلامي براي یهود و نصاري مساعد نموده و در از بین بردن و خاموش کردن دعوت هاي اسلامي از یاداران شان یك قدم جلوتر به پیش میروند، و باز هم همینها هستند که با وجود دعواي اسلامیت یك فرد مسلمان را به جرم ریش داشتن و لباس و صورت اسلامي نگهداشتن تهدید و یك زن مسلمان را به اثر رعایت حجاب شرعي آزار و اذیت مي نمایند.

ولي باز هم خداوند قدیر و لایزال که حامي و نگهبان شریعت مطهره اسلامیست در همین دوران پر فتن، تجلیات رحمت خود را متوجه سر زمین جهاد و شهادت نموده و مي بینیم که امارت اسلامي افغانستان به تمام معني یك نظام اسلامیست که همه دساتیر اساسي شریعت را نافذ نموده و پالیسي داخلي و خارجي خویش را طبق اصول و مقررات اسلامي بر مبناي اخوت اسلامي و همدردي بشري استوار کرده است، و با اینکه با هجومي از مخالفت و حسادت دشمنان دین مواجه گردیده، از خط ص ٤

د گنج حویلی

الحاج گوهري

ما به هغه ته په څیره څیره کتل خو هغه به مخ بل خواته واړاوه، خدای خبر د هغه په زړه کې به څه تیریدل؟ خو ما به چې د هغه دنګې ونې، غټو غټو او ښایسته ښایسته سترګو ته کتل په زړه به مې سری لمبې بلیدې او په سترګو کې به مې د اوښکو ډنډو نه جوړ شول که هر څو به مې سترګې بلې خواته اړولې زړه به مې تری صبر او ولي د مقناطیس په څیر به مې بیا له اوښکو ډکې سترګې دده تور و سترګو د ځان خواته ورکشکولې.

د جهاد لومړی کلونه و، د ژمې سړې شپې وې موږ د لوګر د آبجوش د مرکز د مجاهدینو د اکمالاتو په نیت په پیښور کې د هجرت شپې سبا کولې، د ګنج په یوه کوچنې حویلي کې دوه، درې سوه مجاهدین په څو محدودو خونو کې لکه غومبسې سره راټول و، د حویلي مخې ته یو سماوات و مجاهدینو به یو له بل سره په همدې سماوات کې د زړه خواله کول، ما به ټوله ورځ د سماوات په کونج کې د هغه په انتظار تیروله، خو زما او د هغه د لیدلو وخت ډیر کم و او هغه هم د ماخستن د ډېوې سی خپرونې وخت. کله به چې د خبرو نو وخت را ورسید دی به هم د نورو مجاهدینو په څیر سماوات ته راغې او د سماوات راډیو ته به ټولو مجاهدینو غوږ نیولی و چې څیر ته به د روسانو د ماتې او د مجاهدینو د بریاوو زیرې کیږي دا لړۍ همداسې روانه وه ما به غوښتل چې هغه ته نږدې کښینم خو دده له شرمه به داځل د پخوا په پرتله ډیر لیرې کښیناستم.

یوه ورځ مې یوه مجاهد ملګری ته دا قصه وکړه هغه راته وویل په دې کې څه شرم دی؟ راځه نن د هغه تر څنګ کښینو له نږدې به ورسره وګورې د زړه حال به ورته ووایې همدا وو چې زه او مجاهد ملګری مې دواړه دده خواته ورغلو ده ته مخامخ کښیناستو، ده لومړی مخ بلې خواته واړاوه خو بیا یې ماته مخ راواړاوه او په ډیر ادب یې را څخه وپوښتل ورره! دا څو ورځې چې زه تا ته ګورم سترګې دې دواړه په ما کې خښې کړې وې نه پوهیږم مطلب دې څه دی؟

زه دده پوښتنې ته بې ځوابه پاته شوم او له ډیرې حیا مې مخکې ته وکتل خو ده بیا راته وپوښتل ورروه؟ ولې چوپ شوې ماته دې په کتلو کې مطلب څه دی؟ ما هغه د چا خیره سل ژوونه سره یو کړل او له یوه ساړه اسویلي وروسته مې ځواب ورکړ: زما شهید ورور عزیز محمد هوکې، زما دوه ویشت کلن ځلمی شهید ورور. ده بیا راته وپوښتل ورروه زه خو دی په خبره پوه نه شوم لکه چې ستا ورور شهید شوی؟ ما ورته وویل هوکې، ورروه څو میاشتې کیږي چې ګران او ځلمی ورور مې شهید شویدی ما یکی یو ورور درلود هغه که له یوې خوا پیاوړی مجاهد و له بله پلوه هغه ښه پوه طالب هم و هوکې طالب. ده بیا مخ را واړاوه راته وېې ویل: د ورور شهادت دې خدای قبول کړه خو دا درنه پوښتم چې ماته د څه لپاره ګورې چې هرې خواته سترګې واړوې ته وا په ما پورې دې سترګې تړلې دي بې واره بې زما خواته راواړوې. څرنګه چې زه د خپل ځوانیمرګ شهید ورور غم لیونی کړی وم له سترګو مې د پسرلي د وریځو په څیر په لپو لپو غټې غټې اوښکې را تویې شوې او یوه شیبه مې له خولې سپین قدرې هم ونه وت بیا مې حواس را په ځای کړل ورته ومې ویل: ورروه! تا ته زه ځکه ډیر ګورم چې زما یو کشر او په ماګران ورور ستا عمر دی خدای هغه ته نه ورته کوی کټ مټ لکه ته ورروه د تا په څیر د هغه هم دنګه ونه، سپین رنګ توري غټې غټې او ښایسته سترګې یې وې. هغه ډیر تکړه مجاهد و شپه او ورځ به یې د روسانو او داخلي کافرانو پر ضد توپک په اوږه ګرځاوه خو د خدای «ج» اراده به همداسې وه څو میاشتې وړاندې هغه شهید شو زه او یوه ی مور مې دوه په دوه د غمونو په دنیا ګې کې پاته شو.

ورروه! زه چې تا ته ګورم د خپل شهید ورور مینه مې د رپاندې ماتیږي هغه په داسې حال کې چې له دواړو غټو سترګو ته یې اوښکې راڅڅیدې راته وویل: ورروه! خیر دی مه خپه کیږه که ستا ورور شهید شوی دی د هغه روح دې ښاد وي، ما هم ورور وګڼه تر څو چې د ګنج په دې حویلي کې اوسیږو زه او ته به سره ورونه یو.

حلول ماه مبارک رمضان

مستمند

اي مـه فـرخنده در شـام غـريبـان ديدمت
دلکش و جـان بخش چون ابروی خـوبان ديدمت
آمـدي اي آشنـاي بيـوفـا دير آمـدي
ز اشـتيـاقت با دو چشم اشکبـاران ديدمت
تو پيـام نور و شـهـر مـهـري و باران فـيض
اي چنين اندر کـلام پاك سـبـحـان ديدمت
قـفل دوزخ هسـتي و زيبنده مـفـتـاح بهشت
در حـديث مـصطفیؐ خـتـم رسـولان ديدمت
رمـز تعـمـيـم مـسـاوات است در ايام تو
بر فـقـيـر و بر توانگر جـمله يکـسـان ديدمت
آمـدي بر کـابل مـحنت سـراخـوش تافـتي
خـوش شـدم هرچند با حـال پريشـان ديدمت
مـقـدمت را من گـرامي داشـتم بس سـالهـا
با هزاران مـشـعل و قنديل رخـشـان ديدمت
زينت ديگر ندارم جـز گلـسـتـان شـهـيـد
صـد چراغ لاله از خـون شـهـيـدان ديدمت
آنکه لاف از دين و از اسـلام مي زد اي دريغ!
کـرده ويرانه مـرا کـاين گـونه بيـجـان ديدمت
هيچ عـاقـل تيـشـه اندر ريشـهٔ جـانش نزد
ريشـه کن گـشـتم ز دست تيـشـه داران ديدمت
شـاهد تنزيل رحـمـت بوده‌اي مـاه خـيـر
همنشـيـن برکت تقـديس يزدان ديدمت
خـواهم از حق تا ز يمن مـقـدمت در اين ديار
خـيـر آيد زانکه چون امـيـد واران ديدمت
فـتنه هاي فـتنه جـويان جـمله گـردد بي اثر
زين تمـنـا با دل پر درد و ارمـان ديدمت
خوش بتاب اي مـاه آمرزش کـه من از جـان و دل
در حلولت جلوهٔ خـورشـيـد تابان ديدمت

د شعر او ادب نړۍ

ما وپیژنه!

داکتر «ښادمن»

تانه وایم!
د فکر او هوښ وزرې زما خواته راوغوروه.
ما به نه ازاروي. که غیبت کوي نو بیا ما ګونګې وبوله، که ګناه کوي نو ماشلې وګڼه.
که د بل ناموس ته په سپکه ګوري نو مارندوي. که روا وعدې نېمګړې پرېږدې نو ما به لیونۍ کړي. که ته غلا وکړې زما لاسونه ماتیږي بیا مات لاسونه له تا څرنګه تا وکړم؟
که د چا مال په ناروا خوري نو په خپله مې زندي کوي. زه ډېره سپېڅلې يم. که زه درته ګرانه يم نو پوه شه چې بوازې له ما سره به مينه کوي.
پام!
په يوه زړه کې ډېرې مينې نه ځايږي.
ما وپيژنه!
زه روژه يم، روژه! ستا د ابدي ژوند ملګرې.

د رحمتونو میاشت

اسد الله «حنيفي»

راغله د الله د رحـمـتونو مـيـاشت
دا د مـحـبت او الفـتونو مـيـاشت
دي مياشته کي هر څه مينه مينه وي
دا ده د يووالي وحـدتونو مـيـاشت
دغـه مياشت پيغام د ورورولي لري
نه ده د حـسـد او نفـرتونو مـيـاشت
راشي ښـه کـارونه پکي وکـړو
ده د نيکو ښو ښکلو کارونو ميـاشت
چي د عـبـادت ورځي راغلي دي
دا ده د څو چنده ثوابونو مـيـاشت

کرونولوژي (۳)

د افغانستان د سیاسي او ټولنيزې ګډوډۍ علتونه

له ۱۳۳۲ نه تر ۱۳۷٤ هـ ش پورې

صلاح الدين «ابراهيم خيل»

دګهند رسول، محمد کریم، غلام دستګیر په شان نومونو څخه د سر ټکی لرې او په «رسول، کریم، دستګیر» بدل شول، د مور او پلار په ضد اولاد پاروني لپاره د «پدر سالاري» او «مادر سالاري» کلماتو استعمال دومره عام شوی و چې مور او پلار خپل اولاد ته غږ هم نه شو کولای او لا په ډیره سپین سترګې د «پرچم» په اخبار کې د اسلامي مقدساتو په سپکاوي او غندنه هم لاس پورې شو، خو سره ددې هم چا حق نه درلود چه د هغه په خوله لاس کښیږدې بلکې په دولتي جرایدو کې ځواب ورکړي او د صواب لاره وروښیي، خلک ددې ناوړه چلند نه پوزې ته راغلل او د دیني عالمانو او روحانیونو څه استازي یې مرکز او د ولایاتو والیانو ته واستول څو له دولتي مسوولو کسانو سره د دغه کفر پلویانو د بریدونو د مخنیوي په باب خبرې وکړي، خو مقاماتو او والیانو ځانونه بې تویره وښودل او د هغې جملې د هرات والي غلام علي «آئین» د علماوو نمایندګانو ته بر الا وویل: «تاسو نږدې ده چې د قران څخه دایرة المعارف جوړ کړی» «نعوذ بالله» لکه چې ظاهر شاه هم د دیني علماوو یوې ډلې ته په کندز کې داسې

وویل: زه له شوروي اتحاد سره قدرت سره د شمالي پولو د پنځه ویشت کیلو متري موقعیت په لرلو د «ستر لینن» له حقیقته سترګې نشم پټولای تاسو له دین نه څه جوړ کړی؟ د دین ځای زړه او تاسو هغه د خولې له لارې په خلکو په زور تپې خلک پرېږدی چې د دین له دغې تنګي حلقې ووځي او د خپل مدني ژوند په حقیقت پوه شي.

دلته به بې ځایه نه وي چې د «تارنت روبین» افغان پیژندونکي امریکایي ستر لیکوال او نامتو ژورنالست د وینا هغه متن چې د روان کال د جنوري په میاشت کې یې د افغانستان د راتلونکي په باب د افغان مهاجرینو ۲۰۰ کسیزې جرګې په وړاندې د یوې پوښتنې په ځواب کې کړېده، د ظاهر شاه مخلوع پاچا کفر پلوي د لا ښه جوته کیدو لپاره وړاندې کړو: «آقای تارنت روبین! هرگاه ظاهر شاه در موقف ملا محمد عمر قرار می داشت، آیا اسامه بن لادن را به امریکا میداد؟» روبین په ځواب کې وویل: «هر گاه ظاهر شاه می بود نه جهاد بود و نه نام جهاد و نه اسامه بن لادن و نه هم بحران کنوني افغانستان» روبین زیاته کړه عقب این سوال شما نکته است که بخوبی آنرا درک می کنم و آن اینکه طبق روایت پشتون ها لادن پناهنده است و بر طبق اصول اسلامي اسامه مجاهد است و چون به مجاهدین کمک کرده انصار است و در عین حال مهمان است لذا فردی متصف به این صفات را هیچکس به کسی سپرده نمیتواند)

د ۱۳٤۷ هـ ش کال په منی کې د هیواد له هر ګوټ نه دیني عالمانو او روحانیونو کابل ته یو شمیر استازي له **حکومتي مقامونو سره په دغه باب خبرو ته راواستول، خو په کابل کې چا د خبرو کولو وخت ورنکړ، دغه استازي بیا هم د خبرو د فرصت موندلو په هیله د کابل په پلخښتي جوماټ کې تم شول. یوه میاشت وروسته چاپي پوښتنه هم ونکړه څرنګه چې په دغه غوښتنه کې د علماوو له استازو سره نور دیندار خلک هم یو ځای شول او شمیر یې زیات و کم ۳۰۰ کسو ته ورسید. حکومت** د علماوو د ډلې ورځ په ورځ زیاتیدو له کبله په ویره کې شو او آن تر دې چې په کابل کې یې د شوروي سفارت هم سخت اندیښمن کړ، نو شوروي سفیر او ظاهر شاه په دې سلا شول چې ملایان پټه خوله په نا ځایي برید له جوماټ نه بهر او په موټرو کې قهراً خپلو سیمو ته واستوي.

د همدې کال د میزان په ۲۷ د شپې په دوو بجو سردار عبدالولي د ظاهر شاه زوم، او ځلورم اکا زوی، د قوای مرکز قوماندان **د زیات پوځ او ژاندارم په ملګرتیا، د اطفایي جوش اوبو او برقي کوټکو په زور له ملایانو راتاو شو، له خوایه خوبه بې راویښ، په وهل، ټکولو یې له جوماټ نه وویستل، او په ډیره بې حرمتي سره یې هر یو د کابل له حضوري چمن نه موټرو کې خپلو خپلو سیمو ته داسې واستول چې څوک پرې خبر هم نه شول. د دولت دې بې** رحمه ناوړه اوله اسلام پالنې او پښتونولۍ لرې عمل ټول مومن ولس سخت خوابدی کړ، تر دې چه د دایرو، مدرسو او پوهنتون په کچ د مومنانو او کمونستانو تر منځ ناوړه تریخوالي تود شو څو په پوهنتون کې مومنو محصلانو «سیدال» نومي ملحد او بې دینه محصل وواژه، د لغمان په ښاروالۍ او هرات کې هم په دغه باب د دغه شان مرګ ژوبلې وشوې.

په ۱۳۵۱ کال د حوت په دریمه کابل ښار زرنګار پارک کې د اسلام پلوه محصلانو او زده کوونکو لخوا د ظاهر شاه په خلاف میټنګ او لویه مظاهره وشوه، په هغه کې یې د کفر پلویانو لخوا د مقدساتو سپکاوي په وړاندې د پادشاه چوپه خوله، پټې سترګې همدارنګه یې د هند په وړاندې د یو نیم میلیون سکهـ قوم د آزادي غوښتنې په ناره سورو غوږ کښول، او له پاکستان څخه د هند په لسمون او جبر د مسلمانانو کمزورولو لامله د بنګله دیش مسلمان ولس جلا والی، په رسمیت پیژندل، دغه شان د هند د خوشحالي پخاطر د جمو کشمیر سپیڅلو مسلمانانو دیرش کلنې آزادي غوښتنې مبارزې او په دې لار کې زرګونو بې کفنو شهیدانو هیرول او په پام کې نه نیول، وغندل او هغه یې تکفیر کړ په نتیجه کې د دولت پوځي ګوډاګیانو مظاهره او میټنګ تیت برکت کړ، حبیب الرحمن یې ونیو او له محاکمې پرته یې بیا په ډیره بې رحمي شهید کړ.
انا لله و انا الیه راجعون

په ۱۳۵۲ کال ظاهر شاه د خپلو ناوړه دوله وهم او ویرې دومره سودایي او وارخطا شو چې هر څه یې داود ته پرېښودل او د ناروغۍ دوا درمل په پلمه له هیواد نه کفري ملکونو ته لاړ.

پاتې لري

حزین

نگهت روحپرور ریاحین شمه ، شمه به مشام جان ها می دمد ، دانه هاي باران رحمت در گستره، گلزمین دلها مي تراود نوید میدهد و مژده مي رساند آمد آمد بهار رمضان ،
رمضان ماه شگوفایي و زیبایي، ماه شکیبایي و دیبایي ، ماه پیام آور نشاط و محبت، عبادگر مؤمنان ، درمانگر بیچارگان، توا بخشاي بي توابان ، گره کشاي درماندگان، ضیف پر مایه و گرانمایه، الگوي یکرنگي و ممثل وحدت و یکپارچگي ما ، بال هماي سعادت تویي تو و سمبول عدالت در تو پدیدار است. و در آستانه وصال تو بي صبرانه مي تپیدیم. خوشبختانه مژده، وصالت را در آخرین روز شعبان با زمزمه هاي محرمانه «مرحبا - مرحبا » استقبال نمودیم.
و با حلول تو خاطر نالان ما تسکین یافت و فقط در آغوش پر مهر تو پرورده مي شویم و در مدرسه و درسگاه گلستان تو تربیه صوري و روحي ما پیداست و دل هایمان چون گلهاي بهار از تو رنگ مي گیرد.
مرحبا و صد مرحبا در مقدم بهار رنگین و پر طراوت تو ماه صیام - ماه صیام

امارت اسلامي و مسؤولیت علماء ...

مشي اسلامي و مقتضیات دیني خود اندکي انحراف نورزیده و رضاي خداوند را از همه منافع مادي برتر دانسته است.
بنأمقتضاي شکر این نعمت جز فداکاري و ایثار در راه تحفظ و تقویت این نظام خجسته چه خواهد بود ؟ همچنان فراموش نباید کرد که قیام امارت اسلامي محصول مبارزات پیگیر و قرباني هاي بيدریغ این ملت مؤمن و فداکار و آرمان صده ها هزار شهید، معلول ، محبوس، یتیم و بیوه رنجدیده میباشد پس یك لحظه غفلت و تخطي اندکي ازین مسیر، خیانتي بس بزرگ و جفاي بي انتهاي در برابر همچو آرمانها نخواهد بود ؟ مسلماً این یك خیانتیست تاریخي و نا بخشودني، پس با قاطعیت باید گفت که علماء مجاهدین هدف مند با احساس در زمینه مسؤلیتهاي بزرگي دارند و بر ایشان است تا ملت را بوسیله دعوت حکیمانه و اخلاق کریمانه بسوي راه حق و صواب توصیه نموده و خود نیز از اختلافات جزئي سلیقوي بر حذر باشند وپیوسته مصالح جزئي و فرعي خویش را در راه حفظ و اعلاء شعایر، اصول و اساسات اولیه اسلامي قرباني نموده، نمایانگر ایثار و فداکاري حقیقي راه اسلام باشند، و نگذارند به اثر توطیه و دسایس دشمنان در گرداب اختلافات نا مشروع غرق شوند که نتیجتاً آنگاه دشمن واقعي در تماشا نشسته و استعداد هاي شان در منازعات داخلي مصروف خواهد شد طوریکه جناب عالیقدر امیر المؤمنین بار ها اعلان نمودند که اگر خدا نخواسته این امارت دامنگیر ضعف و فساد اداري میشود مسؤولیت بدوش آنعده علمایي خواهد بود که از همکاري و تأیید این امارت اعراض مي نمایند و در پیشگاه خداوند عزیز دست من درگریبان همچو اشخاص خواهد بود که ما را درین راه تنها میگذارند.
در اخیر باید یاد آور شد که زندگي در زیر یوغ نظام هاي مستبد عَلَماني بسا مشکل بوده و علماءکشور ستمدیده ما خوب بیاد دارند که نظام هاي بي دین و کمونیستي چه قسم یك حالت مرگبار و مختنق را برایشان آورده و چقدر علماء برجسته ما را به انواع شکنجه ها و حبس ها از بین بردند، و به کجا بردند و چه کردند و چه شدند ؟ پس باز هم غفلت ؟!

تعداد بیکاران در آلمان بیشتر از سه میلون تن اعلان شده است

دفتر مرکزي امور کار آلمان دیروز احصایه جدید خود را حاوي تعداد بیکاران و وضع کار در آنکشور منتشر نمود.
طبق ارقام اعلان شده تعداد افراد بیکار در آلمان به سه ملیون و هشت صد و هشتاد و سه هزار و سه صد نفر رسیده است. احصائیه مذکور همچنان نشان میدهد که با در نظر داشت تعداد متذکره نه اعشاریه نه فیصد مردم المان فعلاً بیکار میباشند.

د انسانانو د قد او زیږیدني تر منځ اړیکي شته

د بوي ډلي پوهانو نوي څیړني څرګندوي چي د انسانانو د قد د اوږدوالي او زیږیدني تر منځ مستقیمي اړیکي شته د واشنګټن پست ورځپاڼه لیکي چي جان مونتان او د هغه مسلکي انډیوالان چي له کلونو راهیسي په دي موضوع څیړني کړیدي وایي دوي په کوپن هاګن کي د ساري ناروغیو په نړیوال مرکز کي د څه د پاسه یو عشاریه یو ملیون دنمارکي ماشومانو هغه ځانګړتیاوي چي د ۱۹۹۰ او ۱۹۹۶ میلادي کال په منځ کي زیږیدلي تر څیړني او تحقیق لاندي نیولي دي. ددغو پوهانو د څرګندونو له مخي هغه شمیر ماشومان چي د پسرلي او یا مني په موسمونو کي زیږیدلي دي د قد له پلوه تر نورو ماشومانو لږ څه لوړ دي.
د محرم الحرام په میاشت کي زیږیدلي ماشومان د شعبان یا رمضان المبارك په میاشت کي زیږیدلي شویو ماشومانو په پرتله دوه عشاریه دوه ملي متره لوړ دي. له دي دمخه استرالیایي پوهان په ځانګړو تحقیقاتو کي دي پایلي ته رسیدلي و چي د نارینه و د قد او هغه میاشتي چي دوي پکي زیږیدلي دي مستقیمي اړیکي شته .

کار ترمیم سرك شبرغان ...

بوجود آورده بود اخیراً بتأسي از اقدامات عام المنفعه امارت اسلامي افغانستان طبق پلان مرتبه وزارت فواید عامه کار ترمیم و جغل اندازي آن توسط انجنیران و کارگران پروژه قواي کار ولایت جوزجان آغاز گردید.

د کابل ښار او شاوخوا ...

په ترځ کي څرګند او زیاته یي کړه :
د کلوریشن پروګرام چي څه موده پخوا د وړونکو انتاني ناروغیو لکه : اسهال، پیچش کولرا او محرقي د مخنیوي په خاطر پیل او زمونږ نژدي ۷۰۰ تنو هیوادوالو یکي فعاله ونډه درلوده د کابل ښار او شاوخوا سیمو د څښاك د اوبو ټولي زیرمي او منابع په دو مرحلو کي کلوریشن کړي شوي د یادوني وړ ده چي په دغه پروګرام کي ګهون کوونکو ته هره ورځ د کار په بدل کي څلور کیلو ګرامه غنم په نظر کي نیول شوي وه مونږ د خپل پروګرام د لومړي مرحلي په بریالي توګه تر پاي ته رسیدو وروسته خپلو ګهون کوونکو همکارانو ته د ورځو په حساب غنم ویشل. او دا دي اوس چي زمونږ د کلوریشن د پروګرام دوهمه مرحله هم په بشپړه توګه په بریالیتوب سره پاي ته ورسیده او په ترځ کي یي څه د پاسه ۱۰۰۰۰ د څښاك د اوبو څاګاني او زیرمي کلوریشن کړي شوي. اوس زمونږ دغه پروګرام په بشپړه توګه پاي ته رسیدلي او مونږ خپلو ګهون کوونکو همکارانو ته د دوي دوهمي دوري پاتي غنم دورځو د شمیر له مخي توزیع کوو همدا اوس زمونږ د غنمو د ویش لړي د عامي روغتیا وزارت په انګړ کي جریان لري.

سید یوسف

اعضاي تیم ملي ...

محمد کریم ، فهیم، حمید الله ، احمدضیاء، نجیب الله، جاوید احمد، شیر احمد ، حیات الله، نیاز محمد، نجیب الله ، کریم ، طارق احمد، عبدالسلام و میر داد شامل میباشند.

سرك کابل - گردیز ...

فواید عامه به شدت جریان دارد دیروز محترم مولوي سعید الرحمن حقاني معین اول وزارت فواید عامه در حالیکه محترم مولوي عبدالرؤف ابدالي رئیس حفظ و مراقبت سرك ها و بعضي از مسوولین دیگر آن وزارت با ایشان همراه بود دیدن بعمل آورده و به منظور تسریع کارترمیماتي سرك به انجنیران و مسوولین مربوط مشوره هاي سودمند دادند.
کار ترمیم و احیاي سرك کابل - گردیز که چندي قبل آغاز یافته است . تا اکنون در حدود چهل کیلو متر ترمیم و داغگیري گردیده و کار متباقي به شدت جریان دارد.

اجراات امور ریاست ...

معادن و صنایع ولایت هرات در حالیکه از سوي محترم مولوي محمد الرحمن محمدي رئیس آنریاست معلومات ارائه میگردید چگونگي اجراات امور شانرا مورد غور و بررسي قرار داده و با ابراز قدرداني از کار و اجراآت انجام شده در آنریاست به مسؤولین و کارمندان مربوط بخاطر هرچه بهتر پیشبرد امور رهنمایي لازم داد.

اختلافات جدید در ...

به مذاکرات صلح پایان خواهند داد .
مادلین البرایت که اکنون رهسپار بیت المقدس و هکذا اسرائیل میباشد در نظر دارد تا این سفر خود با یهود بارك صدراعظم اسرائیل و یاسر عرفات رئیس اداره خود مختار فلسطیني ها بحث و مذاکره نماید.

د مخدره موادو پر خلاف ...

والو له بزگرانو سره د نړیوالو مایعو له لاري لازمي مرستي د کرني د سیستم بیا احیا کول په نورو گټورو بوټو د کوکنارو د کرکیلي بدلون او دغه راز په دي برخه کبند نړیوالو موسو فعال رول حتمي کار وباله .

به اساس شفقت عالیقدر ...

داده و سبب آزار و اذیت مردم شده و فرزندان آنها را همچو شما راهي جنگ مینمایند.
محترم معاون رئیس الوزراء علاوه نمودند : بنا به احترام فرا رسیدن ماه مبارك رمضان شما مورد شفقت عالیقدر امیر المؤمنین قرار گرفته و غرض رهایي شما فرمان را صادر نموده اند که شما برادران سر از اکنون آزاد بوده و میتوانید در کنار سایر هموطنان تان قرار داشته دیگر فریب عناصر جنگ افروز را نخورده و به امارت اسلامي افغانستان مردم و وطن تان مصدر خدمت شوید.
بالمقابل اسراي رها شده محابس مختلف و از جمله محبس مرکزي پلچرخي که تعداد شان به ٤٥٠ نفر میرسید با سر دادن نعره هاي الله اکبر از شفقت عالیقدر امیر المؤمنین و سخنان محترم الحاج ملا محمد حسن آخند معاون رئیس الوزراء ابراز خوشي کرده و چند تن آنان به نمایندگي از دیگران وعده سپردند که دیگر فریب دشمنان را نخورده به امارت اسلامي و مردم میهن خویش مصدر خدمات سازنده و شایسته میگردند.
بعد از ختم اجتماع،اسراي رها شده توسط سرویس هایي که جهت انتقال آنان به منازل شان آماده گردیده بودند رهسپار خانه هاي شان گردیدند.

په پاکستان کي د روسیې ...

چي نوموړي له مهیني څخه وژغوري نوموړي ٤١ کلن وه او یو کال او دوه میاشتي مخکي په پاکستان کي د روسیې د لوي سفیر په توګه ټاکل شوی و د نوموړي جسد تیره ورځ د روسیې پلازمیني مسکوته ولیږدول شو .

تظاهرات شدید ...

روسیه در شهر واشنگتن به راه انداخته شده بود از جانب دهها تنظیم هاي اسلامي امریکا حمایه گردیده و مسؤولین روسي مؤظف در دفتر مذکور از ترس مظاهره کنندگان دروازه ها را عقب خود بسته و پرده ها را نیز پائین کش کردند.

به قارغان جدید پوهنځي ...

رئیس پوهنځي شرعیات در رابطه به ارزش تعلیم و تربیه و رسالت و مکلفیت هاي قارغان صحبت نموده مسؤولیت هاي آنانرا در راه خدمت به جامعه و مردم سنگین خواند.
در ختم محفل یکمقدار تحایف و تحسین نامه ها که از طرف اداره پوهنتون کابل و پوهنځي شرعیات تهیه شده بود به قارغان ممتاز سال ١٤٢٠ آن پوهنځي توزیع گردید.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

اسلامی امارت د متقابل احترام په رڼا کی له ګاونډیو سره نیک ګلند غواړی

تیره ورځ زمونږ د شمالی ګاونډی هیواد ازبکستان جمهور رئیس د افغانستان په اسلامی امارت تور ولګاوه چی ګویا د ازبکستان په کورنیو چارو کی لاسوهنه کوی او د افغانستان په خاوره کی ازبک اسلامی جنګیالی روزی که څه هم داد کریموف لومړی تور نه دی چی د افغانستان په اسلامی امارت یی لګوی او تر دی د مخه یی هم داسی او دیته ورته نور تورونه د افغانستان په اسلامی امارت باندی لګولی دی چی بیلګه ددی څو ورځی وړاندینی غږ دی چی په لویدیځی نړی یی کړی و ښاغلی کریموف له غربی نړی څخه غوښتنی وو چی ګواکی له افغانستان څخه د بنسټ پالنی تند او تیز سراب ازبکستان ته مخه کړیده او غربی نړی باید له دوی سره د اسلامی بنسټ پالنی په ټکولو او دفع کولو کی مرسته وکړی.. د افغانستان اسلامی امارت په داسی حال کی چی دا او دیته ورته نور تورونه په کلکه ردوی ، بی بنسټه او له واقعیت څخه یی لیری بولی له ګاونډیو هیوادونو سره د ګلند په اړه یی څو څو ځله رسمی اعلامیې هم خپری کړیدی. اسلامی امارت په خپلو اعلامیو کی ویلی دی چی موږ نه د چا په کورنیو چارو کی لاسوهنه کوو، او نه بل چا ته اجازه ورکوو چی زمونږ په کورنیو چارو کی لاسوهنه وکړی، اسلامی امارت څو څو ځله په ډاګه کړیده چی دوی له ټولو هیوادونو او په ځانګړی ډول له ګاونډیو هیوادو سره نیک ګلند ، ښه ګاونډیتوب ، دوستانه فضا او د متقابل احترام په فضا کی ګلند غواړی او خپل نا پلویتوب یی په عمل کی هم ثابت کړیدی خو دا تور دی چی د افغانستان د اسلامی امارت په کورنیو چارو کی یی په لاسوهنی سره افغانانو ته خپل خور تاتوبی اور ګرځولی دی او د باروتو لمبی په کی بلی دی.
د کریموف دا تور چی ګویا اسلامی امارت د ازبکو مسلمانو جنګیالیو په هڅونه او روزنه کی لاس لری پوره یی بنسټه دعوه ده . ځکه اسلامی امارت هیڅکله ددی قصد نه لری چی نورو هیوادو ته سر درد پیدا کړی، د چا په خاوره کی د جګړو اور ته لمن ووهی او یا ورته د ستونزو لامل شی.
دا چی نن سبا کومو خلکو د ازبکستان د حاکم نظام په ضد وسله را اخستی ده، هغوی مظلوم واقع شویدی ، په هغوی تیری شویدی د هغوی په سیاسی ، مذهبی، ټولنیزو ملی او بین المللی حقوقو یرغل شویدی، د هغوی سیاسی ، مذهبی، ټولنیزو ، ملی او بین المللی حقوقو یرغل شویدی، د هغوی سیاسی مذهبی او ملی ازادی غصب شویده .
دوی مسلمانان دی له پیړیو پیړیو را هیسی یی د اسلام د سیځلی دین تر سیوری لاندی ژوند کړیدی، هلته یو ستر اسلامی مدنیت تیر شویدی داسی مدنیت چی نن د ساینس او تکنالوژۍ په پیړۍ کی هم ورته ډیر ملتونه او مدنیتونه ګوته په غاښ دی او د هغوی برم، شهامت او همت ته افرین وایی چی اثار یی اوس هم د هر چا په وړاندی دی حتی په دی سیمو کی د سر خوړلی شوروی د یرغل په وخت کی هم دی خلکو خپل عبادت او اسلامی تعلیم په پټه کاوه او هیڅکله یی له اسلام سره اړیکی غوڅی شوی ندی . اوس هم همدا خلک دی چی یو ځل بیا یی د خپلی اسلامی ازادی چی یو مثل شوی سیاسی، شرعی ، ټولنیز او فطری حق یی دی د لاس ته راوړلو لپاره مبارزه پیل کړیده چی نه په کی اسلامی امارت څه لاس لری او نه یی څوک روزلی دی. که چیرته د ازبکستان د مقاماتو په وینا او عمل کی جوت توپیر نه وای او لکه څرنګه چی په ازبکستان کی د دیموکراسی د ټینګښت دعوه کوی همدا راز یی د موکراسی په عمل کی هم پلی کړیوی نو نن به له دی بر خلیک سره مخ شوی نه و ځکه که هلته د موکراسی وی نو د موکراسی د اصولو له مخی خو ازبک مسلمانان حق لری چی په خپله خاوره کی د خپلی خوښی نظام چی هماغه اسلامی نظام دی راولی د دموکراسی له مخی هغوی د مذهبی ازادی حق لری، په خپله خاوره د خپل کنترول حق لری خو چی څوک یی په رضا نه ورکوی نو مجبور دی چی د تر لاسه کولو لپاره یی وسلی ته لاس کړی.
اسلامی امارت یو ځل بیا په ډاګه اعلانوی چی نه د چا په کورنیو چارو کی لاسوهنه کوی، نه څوک د چا په ضد مبارزی ته هڅوی نه لمسول کوی او نه د چا د مخالفینو ساتنه او روزنه، او نه څوک د بل چا په فرمایش او لمسونه د مرګ منلو ته چمتو کیږی د اسلامی امارت دریځ په دی اړه دا دی چی دا د تاجکستان خپله کورنی مسئله ده او باید د سولی او تفاهم په فضا کی حق خپل حقدار ته وسپارل شی.
افغانستان له ازبکستان سره د ښه ګاونډیتوب، دوستانه فضا او نیکمرغه چاپیریال هیلی لری او مقابل لوری هم باید دی هیلو او نیکو غوښتنو ته په درنه سترګه وګوری او احترام یی وکړی افغانان هیڅکله هم د چا په کورنیو چارو کی لاس نه وهی او د ازبکستان له مقاماتو څخه هم هیله لری چی د افغانستان د اسلامی امارت په کورنیو چارو کی خپلی ډاګیزی لاسوهنی ته چی همدا اوس د افغانستان د اسلامی امارت او افغان ولس له دښمنانو سره هر ډول نظامی، لوژستیکی او مالی مرستی کوی د پای ټکی کیږدی ، د افغانانو په پرهرونو نوره مالګه ونه شیندی. او که ازبک مقامات همدا تګلاره تعقیب کړی او بیا په افغانانو نور تورونه هم وروتپی او په اصطلاح د خپل بام واوره پری وراړوی نو له دی سره به د افغانانو نیکی هیلی له نهیلی سره مخ او د ښو روابطو او نیکو غوښتنو احساس مجروح شی چی په سیمه کی به د نور کړکیچ لپاره هم لاره برابره شی.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press